Preview (1 / 10) - ketabton.com

# خوشي سنګري (سلطان) ناول دوهمه برخه

لکه څنګه چې پوهېږئ په اوس حالاتو کې اعتراض په مکمله توګه بند ده، نو په اوسني حالت کې اعتراض خو لا څه کوې چې د دولت په وړاندې تخیل هم یو جرم ده.

بس همدې حالت دې ته اړ کړم څو دا ناول که څه هم خپروم خو یوه لوړه بیه به پرې کېږدم څو خلک یې ډانلوډ نه کړي او دا هم وي چې وروسته بیا څوک ونه وایي ودان ناول هغه وخت (مطلب اوس) لیکلی وؤ نو ثبوت یې باید.

نو د همدې لپاره له هغو کسانو چې کېدای شي دا ناول په همدې لوړه بیه وپلوري هیله کوم دا ناول مه خپروئ.

والسلام

================== له ۹۳ څخه ۱ پاڼه==================

Preview (2 / 10) - ketabton.com

# خوشې سنګري (سلطان) ناول دوهمه برخه

همدا مې په خوب لیدل چې الماس حقمل راپاڅولم او په موسکا یې وویل:

ستا لکه چې زړه ده د سهار لمونځ قضاء کړې؟!

ومې ویل:

نه داسې هېڅ اراده نه لرم، خو ډېر عجیب خوب مې لیده.

الماس حقمل وویل:

ته لاړ سه زر اودس وکه څې جمه مو وکړه بیا غږېږو.

لاړم په سړو اوبو مې اودس وکړ او بیا مې لمونځ هم له ملګرو سره یوځای ادا کړ، تر هغه وروسته زه او الماس حقمل یو ځای لاړو، هغې درې ته چې ښه ځنګل یې په منځ کې لاره، ډول ډول ونې وې، خو ډېرې یې د منې، چینار او ولو وې، یوه نیمه سونځله او زردآلو هم پکې ول، خو چې هرڅه وي دې درې ته یې ښکلا بخښلې وه، ځکه دواړو خواوؤ ته یې د درې ګاګرین دېوالونه ول او په منځ کې دا شین ځنګل، ما چې څومره د کلي له خلکو نه پوښتلي ول، نو ویې به یې چې اوس خو هرڅوک وایې چې دا دره ما زرغونه کړې ده، خو په اصل کې دا کار د خوشې سنګري پلار کړی ده، ځکه هغه به چې د خپل ورور کړاو لیده، کوم چې یې له خپل پتهې سره کښېنو ډېر به ځوریده او بیا یوه ورځ فکر ورولوېده چې که چېرې د هر وار جوارو او غنمو پرځای یو ځل د منو نیالګي کښېنول شي، نو کړاو به کم او ګټه ډېره شي، بس همدا کار یې وکړ، خو تر هغه مخکې یې دا خبره د کلي مشرانو په غونډه کې هم بیان کړه او بیا نورو په دې ومنله چې پیسې یې لرلې او د ګټې تول اصول یې سنجول، په هر صورت اوس یې ښکلا تر هغه وه چې کېدای شي د افغانستان ډېرې سیمې یې سیالې نه وي، نو الماس حقمل ته مې وویل:

دا منظره چې وینې د خوشې سنګري د پلار یادګار ده.

الماس حقمل په ما سترګې راوګنډلې او بیا یې وویل:

==================له ۹۳ څخه ۳ پاڼه==================

Preview (3 / 10) - ketabton.com



د هغه په لیدو خو ما هم دا فکر کړی، هغه ته مې ویلي هم ول.

او چې ما ورته ځیر ځیر وکتل، نو خبره یې بېرته واخیسته او په اصلاحیه ډول یې وویل:

هسې ما وې فکر نه کوم څې دا سې به وي، خوسې سنګري ډېر بې ارادې ده، ما څې څومره جهاد ته وهڅاوه ګټه یې ونه کړه.

ومې ویل:

ما له کلیوالو وپوښتل، هغوئ دا خبره راته وکړه.

الماس راته وویل:

سمه ده اوس راته د خپل خوب کیسه وکه، دا خبرې پرېږده.

نو ما هم خپل خوب ورته پیل کړ: خوب مې لیده چې خوشې سنګري د زرداد سلطانخېل پر خور مئیېږي، بیا یې کوژده کېږي، تر هغه وروسته اربکیان هغه نجلۍ بې عزته کوي، نجلۍ ځان وژنه کوي او بیا خوشې سنګري له موږ سره یو ځای کېږي، خو بیا تا ته امر کېږي چې باید د تورو بیرغونو کښته کولو لپاره ولاړ شي، نو ته قومندانی هغه ته ورکوې، هغه له آمریکایانو سره ډلتیا یو او ډلتیا دوه جګړې کوي او دواړه ګټي او بیا د تورو بیرغونو تر کښته کولو وروسته شمال ته ځي، هلته هم بریا ترلاسه کوي او بیا راځو کابل ته او د کابل په اتمه امنیتي حوزه کې دواړه په ګولیو لګېږو، خو هغه د پولیسو په ګولیو شهید یږي او زه ټپي کېږم، بس په همدې وخت کې دې راویښ کړم.

الماس حقمل وویل:

که خوشې سنګري دا خبرې واوري، نو هېڅ کله به هم له موږ سره یو ځای نه شي، ځکه هغه به کله هم داسې خبرې ونه مني چې له افغان سره دې جګړه وکړي.

Preview (4 / 10) - ketabton.com

## خوشې سنګري (سلطان) ناول دوهمه برخه

الماس حقمل بېرته د ســنګر پر لوري لاړه او زه بيا په دې فکر کې وم چې بايد يو ځل له خوشــې سنګري سره سمې خبرې وکړم، که څه هم ما يوځل خوشې سنګري ليدلی وؤ، خو بيا مې هم غوښتل يو ځل يې ســم ووينم، چې دی ولې دومره اړين ده چې د ده لپاره يې آســماني قطعه د دوئ کلي ته رالېږلې ده، نو بيا خبر شوم چې خوشې سنګري خپل کاڼي ته تللی.

بس د همدې لپاره زه هم ورغلم، هغه نن د پخوا په شــان په شــعرونو نه وؤ لګيا، بلکې نن غلی ناست وؤ، ما چې سلام پرې واچاوه، نو ده هم تر ځواب وروسته غلی کښېناسته، نو ما بېرته سترې مه شې ورسره وکړه، په خبرو خبرو کې پوه شوم چې سړی احساساتي خوي لري، وطن پرې ګران ده، دين پرې ګران ده او دا ملت پرې ګران ده، خو د دين سم پوهاوی نه لري، ځکه خو دا امکان لري چې طالبان يې خپل ځان ته جذب کړي، نو حيران په دې وم چې څنګه يې له دې کار نه راوګرځوم، هو ريښتيا تاسو به وايئ چې تا راګرځاوه، نو بيا ته ولې طالبانو ته تللی وې؟

هو هغه حکومت چې طالبان يې پر ضد جنګېدل هم تر طالبانو کم نه وؤ، په زرګونو بدمعاشان يې لرل، له هغې ډلې يوه يې زما پلار وواژه، بيا له دې امله چې زه په پوهنتون کې او کور مو په کلي کې وؤ، نو ورور مې د غچ اخيســتلو لپاره طالبانو سره يو ځای شــو او بيا هماغه بې حياء زورواکي آمريکايانو ته زمونږ د کور کوردينات ورکړل، چې له امله يې زما ټوله کورنۍ شهيده شوه، نو زه هم طالبانو ســره يو ځای شــوم، کلونه مې تېر کړل، زه په دې کلونو کې پوهېدم چې طالبان د پاکســتان څارګرې ادارې (I.S.I) تر امر لاندې کار کوي، خو ما ته غچ اړين وؤ او اوس د اوســېدو ځای نه لرم، ځکه ورسره ګرم.

همدا لامل وؤ چې ورته ومې ويل:

ويل کېږي پوهنې وزارت کې دې دنده لرله.

په ځير ځير يې راوکتل او بيا يې په ناهيلۍ وويل:

هو تر اوسه نه يم منفک شوی سبا نه بله ورځ منفک کېږم.

Preview (5 / 10) - ketabton.com



په موسکا مې ځواب ورکړ:

نو بیا دې ولې دلته اړولي دي، خو ورشه او خپله دنده مخته یوسه.

په حیرانتیا یې را وکتل او بیا یې وویل:

ما فکر کاوه چې ته به مې جهاد ته دعوت کړې او ته مې بېرته دندې ته لېږې، خو خیر باید درته ووایم چې ما غوښتل په ایمانداری او صداقت دنده مخ ته یوسم، خو هغه حکومت په بشپړ ډول فاسد دی، له هر لوري چې ورته وګورې، نو فساد به یې درته ښکاره شي، اخلاقي فساد، اداري فساد او هر ډول فساد پکې شته په ما یې هم د دې لپاره تور پورې کړ چې ګوندې ما په اداري فساد کړی، بیا ځارنوالۍ ته ور وپېژندل شوم، خو ما هېڅ نه دي کړي، بلکې یوازې مې هڅه کوله چې د نورو د فساد مخه ونیسم او یا لږ تر لږه د جوال خوله ورسره ونه نیسم.

رینښتیا هم چې د خوشې سنګري کیسه سخته وه، خو ما نه غوښتل چې خوشې سنګري، نور دلته پاتې شي، نو تر لنډ ځنډ وروسته مې ورته وویل:

یاره خوشې سنګري! ما فکر نه کاوه چې ته به دومره کمزوری یې چې میدان به داسې یوازې په یوه کوچنۍ ستونزه پرېږدې. تا حقوق ویلي، باید کلکه مبارزه وکړې او باید میدان خپل کړې.

تر څو خوشې سنګري څه ووایي، ژمنه مې ترې واخیسته او بیا مې ټوله کیسه ورته وکړه، خوشې سنګري، له ماسره سم وژړل او بیا ده راته وویل:

نو ته بیا نه غواړې چې زه هم ستا په شان د سرېښو په دې ډنډکې راګېر شم، ما هم په همدې اړه سوچ کاوه، اوس چې تا داسې په ټینګار راته وویل او زه دې په رینښتیا پوه کړم، نو سبا سهار وختي به حرکت وکړم.

له خوشې سنګري سره تر غرمې پورې ناست وم، بیا ماسپښین زما د پېرې وار وؤ، نو بېرته راستون شوم، خو سبا سهار وختي خوشې سنګري د کابل پرلوري حرکت وکړ، چې کله الماس

Preview (6 / 10) - ketabton.com



حقمل خبرشو نو اولسوال ته يې دا خبر ورکړ، ځکه خو ما ځان ګوښه کړ او بیا مې خوشې سنګري ته زنګ وکړ، هغه ته مې وويل:

خوشې...وبخښه سلطانه! ډېر پام کوه، داسې نه وي چې څوک دې راپور ورکړي.

خوشې سنګري راته ويلي ول چې نور به راته خوشې سنګري نه وايي، بلکې يا به مې د سلطان په نامه يادوي چې تخلص مې ده او يا به مې په خپل نامه يادوي، ځکه خو مې خبره بدله کړه، خو خير خوشې سنګري وويل:

سمه ده مننه، زه به احتياط کوم.

سلطان لالا کابل ته په رسېدو لومړی کور بيا دندې او تر هغه وروسته څارنوالۍ ته تللی وؤ، څارنوال ورته ويلي ول:

ډېر وخته رانه غلې، ما وې چې تبنتېدلی يې؟

سلطان ته ما د څرانوال په اړه ويلي ول، چې يو زوی يې د کندوز په يوه ځانمرګي بريد کې وژل شوی، نو سلطان هم له دې خبرې نه پوره ګټه واخيسته او په موسکا يې وويل:

څارنوال صاحب چېرته به تبنتېدلی وم، که طالبانو ته هم ورغلی وم، ځانمرګی بريدګر يې تولنې ته وړاندې کولم، تر هغه خو ښه دا وه چې زندان ته لاړشم او بيا ما څه کړي؟ چې بايد زندان ته لاړ شم.

څارنوال محمدخان ته په ځير ځير وکتل او بيا يې په موسکا وويل:

ما چې ستا دوسيه وکتله، نو ماته هم بې ګناه ښکاره شولې، ځکه خو مې دوسيه تړلې ده، ته کولای شې بېرته خپلې دندې ته وګرځېږې.

نو ځوان له څارنوال نه رخصت واخيسته او د دفتر په لوري ولاړه، هلته يې کار کاوه چې مشر يې يو څه پيسې ورته ونيولې، ځوان حيران شو او همداسې په حيرانتيا يې وپوښتل:

Preview (7 / 10) - ketabton.com



دا څه دي؟

مشر يې په غوصې وويل:

زه ستا حق درکوم او ته پوښتنې کوې؟

څوان دا فکر وکړ چې هرو مرو به څه بخششي څه وي، ځکه يې پيسې واخيستې، خو وروسته په دې وپوهېده چې نه دا خو رشـــوت ده، نو همدا لامل وؤ چې څوان حيران پاتې شـــو چې اوس يې دا حرامې پيسې واخيستې، څنګه يې بېرته ورکړي او که يې ورنه کړي، څه پرې وکړي.

په هر صورت، څوان په رشوت راغی، داسې نه چې خپله مخامخ له چا نه رشوت واخلي، بلکې له مشر نه به يې اخيستې، که څه هم دا قاعده چپه وه، د مثال په ډول اصل کې سيستم داسې ده چې کله کوچنی کارکوؤنکی رشوت اخلي نو بيا يې له مشر سره وېشي، خو دلته خبره چپه وه.

بل لوري ته څوان غوښتل چې نور رشوت وانه خلي، خو اوس يې په حل لارې نه پوهېده، ځکه مشر هغه د چا خبره په هره شـــوره کې ده ته برخه بېلوله، نو يې يوازينۍ حل د حکومت په بدلېدو او طالبانو په راتلو کې ليده.

د څوان دا غوښتنه هم خدای ومنله او کرار کرار ولايتونه سقوط کېدل، هغه د چا خبره چې تشناب ته به ولاړې او بېرته به راغلې نو موږ به يو ولايت فتحه کړی وؤ.

بيا يوه ورځ داسې هم راغله چې موږ کابل ته ننوتو، نو څوان مې يو ځل وليد، تر هغه وروسته يې زموږ قطعه بدري قطعه اعلان کړه او هوايي ډګر يې راوســپاره، هماغه وؤ چې هلته مو دنده پيل کړه.

*****

Preview (8 / 10) - ketabton.com



هسې خو بدري قطعه پخوا تر هغه جوړه شوې وه چې موږ کابل ته دننه شو، خو دا چې کوچنۍ وه، نو موږ يې هم بدريان اعلان کړلو، خو دنده سخته وه او چې څومره مې غوښتل سلطان وګورم، امکانات يې نه ول.

تر څو ورځو وروسته آمريکايان په بشپړ ډول له افغانستان نه ووتل، بيا زموږ دنده لږ ښه شوه، نو سلطان ته مې زنګ وواهه چې سره وګورو او په يوه پارک کې مو سره وليدل، تر سلام او روغبړ وروسته سلطان وپوښتل:

ياره دا الماس قومندان دې هېڅ نه ښکاري، چې دا چېرته ده.

په حيرانتيا مې ورته وکتل او بيا مې په غمجن انداز وويل:

ولې ته خبر نه يې؟ هغه خو په لوګر کې شهيد شو.

په تعجب يې راوکتل او بيا يې وويل:

خو پرون مې وليد، ښه تر او تازه وؤ.

نه مې غوښتل نور د الماس په اړه وغږېږم، نو ومې ويل:

هغه پرېږده، وايه ته څنګه يې؟

په موسکا يې وويل:

اوس ډېر خوشحال يم، اسلامي نظام راغلی، نو اوس خامخا افغانستان جوړېږي.

ورته مې وويل:

ولې پخوا ستاسو په ځای کې څه کيسې وې؟

راته يې په ځير ځير وکتل او بيا يې وويل:

Preview (9 / 10) - ketabton.com



یاره پخوا ډېرې بدې کیسې وې، چې یوه ښوونځي به له یوې حوزې نه بلې ته بدلېده، نو اړ وه چې یا یې اته سوه ډالر بډې ورکړې وای او یا خپل عزت، کنه بدلېدل چېرته ول، د ښوونځي زده کوونکې خو تر بګرامه او د چارواکو تر مېلمستونو ورسېدې، یوه پروژه بې له فساده نه وه، نور به څه ول.

یو دم مې وپوښتل:

نو د ښوونکو په تبدیلي کې واسطې هم کار نه کاوه؟!

په موسکا یې وویل:

داسې خو نه وو چې یوه کس ته به یې وویل چې نه یې کوم، درځه.

بلکې پلمې به یې ورته کولې خالي بست نه شته، هغه بست د تاریخ ده او ته له کیمیا نه فارغ یې او داسې نور...

ځان سره مې وویل، بیا مې ځوان ته وویل:

نو دا کار خو هم ښه نه ده چې یو کس دی له ریاضي فارغ وي کیمیا دې درس ورکړي.

په لوړې خندا یې وویل:

خو هغه کس چې پیسې یا عزت ورکړي او لویه واسطه ولري، پروا نه کوي؟

حیران شوم چې د جمهوریت چارواکي لاڅه بلا ول، بیا مې له ځان سره وویل:

څه شکر چې فتح راغله، کنه اوس به څه نخرې لا نورې ډېرې شوې وای!

سلطان په حیرانتیا راوکتل او بیا یې وپوښتل:

څه دې ویل؟!

په ډاډ سره مې ورته وویل:

Preview (10 / 10) - ketabton.com



په فتحې مې شکر ووېست ځکه د فساد مخه ونیول شوله.

سلطان د امارت په بیا جوړېدو ډېر خوښ وؤ، خو زه هم ډېر بوخت وم او ډېر کله مې يې لرغکه هم نه شوه ځوابولی، بیا یوه ورځ د هغوئ په دنده کې یوه خپرونه جوړه شوې وه چې د سلطان ملګرو یې په جوړېدو کې ډېره هڅه کړې وه، خو د هغوئ مشر یعنې خطاب د وړکسانو پر ځای ځان او خپلو ملګرو ته ستاینلیکونه ورکړي ول، چې له امله یې سلطان په دې فکر چې ګوندي دا د عمر (رض) عنه غوندې اسلامي دولت دی ورسره بحث کړی وؤ، د دې بحث پایله دا شوې وه چې په دغې ورځ یې سلطان له دفتر رټلی وؤ او په سبا یې غوښتل چې پرېکړه وکړي څو سلطان له دندې ګوښه کړي، خو د جمهوریت یوه فاسد کارکوؤنکي یې دفاع کړې وه.

بیا مې چې سلطان ولیده، نو ډېر خواشینی وؤ، ما د خطاب په اړه معلومات وکړل، که څه هم هغه ځان تکړه مجاهد او د فدایانو استاد باله، خو زما معلوماتو بیا دا ښودله چې هغه د جهاد پر مهال په اشغال شوي افغانستان کوم چې اوس د پاکستان په نامه یادېږي کې د افغانستان مهاجرو ښوؤنکی وؤ، که څه هم چې ما داخبره سلطان ته وکړه، خو هغه نه منله.

*****

نږدې یوه میاشت ماله سلطان سره نه وؤ لیدلی، خو هغه ظالم زنګ نه راواهه، بلکې په هغو ورځو کې یوې نجلۍ زنګ راواهه، په ما یې د خپل معشوق ګومان کاوه، که به مې هرڅه رټله، خو هغې به بیا زنګ راواهه، حیران وم څه وکړم، خو کرار کرار زما هم زړه وتخنېده، ما څو ځلې ورته دا هم ویلي ول چې زه مجاهد یم، خو هغې غوښتل ما وګوري.

ځان سره مې وویل راځه هم به نجلۍ وګورې او هم سلطان، نو رخصت مې واخیسته او لومړی مې نجلۍ یوه سوداګریز مرکز ته راوغوښتله، خو د نجلۍ په لیدو مې زړه بېرته ځای ته نه ورته، ځکه نجلۍ ډېره ښکلې وه، دومره چې ما یې فکر هم نه کاوه چې په افغانستان کې به دومره ښکلې نجلۍ شتون ولري.

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/hkuMVl0o5xZ

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.